## ایا زه رایه ورکولی شم؟

د اکتوبر ۱۳ د ۲۰۲۴ کال د ښاروالۍ
او ولایتي ټاکنو لپاره خپروني

یوه یا کومه
پوښتنه لرې ؟

: شین ( وړیا ) شمېره
(وړیا شمیره) ۱۷۱۸
:بریښنالیک
elections@spw.wallonie.be
بریښنا پانه یا ویب پانه
http://electionslocales.wallonie.be

## ?څنګه وکړو

په خپله سیمه کې د سیمه ییز مرکز
سره اړیکه ونیسئ

DISCRI او یا سره

اجرا کونکي
DisCRI Asbl,CRIPEL

:مسول مدیر
Farid Nagui, Place Gustave Falmagne 5
5000 Namur

د ملاتړ سره

# زما ښار، زه هلته ژوند کوم، زه هلته رایه ورکوم!

ایا تاسو یو بهرنی یا خارجی تبعه یاست
چې د رایې ورکولو حق شرایط پوره
کوي؟
د رایې ورکوونکي په توګه د
ښاروالۍ په ټاکنو کې نوم لیکنه
وکړئ او او خپل غږ پورته کړئ تر
!څو ستاسو غږ واوري



## زه نوم ليکنه کوم
### ځنګه ؟

د نوم ليکنه يا ګډون غوښتنليک سپارلو سره.
برسېره پردې، د اروپايي اتحاديې غير اتباع بايد يوه اعلاميه يا ځرګندونه لاسليک کړي *چې له مخې يې دوی د اساسي قانون، د بلجيم د خلکو قوانينو او د بشري حقونو او بنسټيزو آزاديو د ساتنې کنوانسيون ته درناوی کوي.

د نوم ليکنې فورمه ستاسو د ښاروالۍ د نفوسو له څانګې او ستاسو کور ته نږدې د بهرنيانو د ادغام يا د بهرنيانو د يو ځای کيدو له څخه ترلاسه کيدی شي (CRI) سيمه ايز مرکز.

### سندونه چيرته وسپارئ؟

ستاسو د ښاروالۍ د نفوسو په څانګه کی.
که تاسو وغواړئ، تاسو کولی شئ خپل د نوم ليکنې يا د ګډون غوښتنه او خپل بيان د يوې اتحاديې له لارې خپلې ښاروالۍ ته وسپارئ.

>>>

دا اړينه ده چې تاسو بايد د ۲۰۲۴ کال د جولای تر ۳۱ پورې خپل نوم ليکنه وکړئ.

د راجستر کولو يا نوم ليکنې سره، تاسو په اتوماتيک ډول د ښاروالۍ د راتلونکو ټاکنو لپاره راجستر يا ثبت کيږئ او بيا تاسو مکلف ياست چې رايه ورکړئ.

**د يو غير اروپايی بهرني شخص په توګه، تاسو اوس مهال حق نلرئ چې ځان د نوماندو په ليست کې د نوماند په توګه وړاندې وکړئ.**
**له بلې خوا، اروپايان کولی شي ځانونه د ښاروالۍ ټاکنو لپاره په ټاکنيزو ليستونو کې وومي او د ښاروالۍ سلاکارانو يا حتی د CPASرييس يا مشر په توګه وټاکل شي.**



ټول هغه بهرنيان چې د رای ورکوونکو په نوم ليکنه کې نوم ليکنه کوي د رايې ورکولو لپاره اړين دي، پرته لدې چې د توجيه وړ نشتوالی يا حقوقي وکيل ولري.

## د ښاروالۍ په ټاکنو کې څوک رايه ورکولی شي؟


**د بلجيم ټول اتباع:**

- د ټاکنو په ورځ کې ۱۸ کلن وي؛
- له مدني او سياسي حقونو څخه برخمن شي.
- د يو ښار يا ښاروالۍ اوسيدونکی وي.

**هر خارجي يا بهرنی**

- يو غير اروپايي اتحاديې تبعه چې د ګډون غوښتنليک سپارلو په وخت کې په بلجيم کې پنځه کاله پرله پسې يا نا پريکړی اصلي او قانوني استوګنځي لري ؛
- د اروپايی اتحاديې تبعه چې د بلجيم تابعيت نلري او د جولای ۳۱/ ۲۰۲۴ کال دمخه راجستر يا ثبت شوی دی.

**هغه خلک چې د ښاروالۍ په تيرو ټاکنو کې يې نوم ليکنه کړې، نور اړتيا نلري چې بيا نوم ليکنه وکړئ، مګر د رايې ورکولو مکلفيت لري.**




دا د ټولو اروپايی اتحاديې اتباعو او همدارنګه د ټولو غير اروپايی اتحاديې اتباعو لپاره ټاکل شوی چې د دوی د نوم ليکنې غوښتنې په وخت کې لږترلږه ۵ نا پريکړی يا پرله پسې کلونو لپاره په بلجيم کې اوسيږي.

## ټاکنو ته تلل :يو مدني اقدام

هرڅوک چې په بلجيم کې ژوند کوي او د يو ښاروالۍ يا ښار په ساحه کې اوسيږي.

د ښاروالۍ چاروکی د ښاريانو سره نږدې دی.



**رايه ورکول د خپلې ښاروالۍ د مديريت لپاره د خوښې او ارادې ځرګندول په معنی دی**